معینیت عواید و گمرکات

**ریاست عمومی عواید**

**ریاست خدمات حقوقی عواید**

**آمریت تهیه اسناد حقوقی و پالیسی عواید**

۱۷۷/۹۹۵۳۳۷
۱۴۴۵/۷/۱۰
۱۴۰۲/۱۱/۳

RVPo - 1151

شماره: ع
تاریخ: 7/10/ 1445
ضمیمه: ( ) ورق

1402 - 11 - 2

درجهٔ اهمیت:
محرم: ☐
عاجل: ☐
عادی: ☐

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**موضوع: تکیر طرزالعمل تشخیص مالیه دهنده گا ن**

**به ریاست محترم تنفید و اطاعت پذیری مالیاتی !**

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته:

اینک ضم مکتوب هذا طرزالعمل تشخیص مالیه دهنده گان بعد از باز نگری و منظوری مقام ذیصلاح در قید ( 11) ورق ارسال است .

ریاست محترم انسجام و انکشاف عواید ولایات طرزالعمل متذکره را از طریق خویش به تمام ولایات اخبار نماید و همچنان آمریت اگاهی عامه در زمینه نشر آن در ویب سایت ریاست عمومی عواید وزارت مالیه اجرآت خواهند فرمود.

**بااحترام**

**حافظ خلیل احمد**
**معاون عملیاتی عواید**
**و کفیل ریاست عمومی عواید**

**کاپی :**

ریاست محترم عرضه خدمات مالیه دهنده گان –ریاست محترم بررسی –ریاست محترم مالیه دهند کوچک –ریاست محترم سیستم عواید –ریاست محترم تحقق پلان و نظارت –ریاست محترم انسجام و انکشاف عواید ولایات –ریاست محترم سمع شکایات مالیه دهنده گان– آمریت محترم رهنمود قانون –آمریت محترم اگاهی عامه و شعبه مربوطه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

د عوایدو او گمرکونو معینیت

د عوایدو لوی ریاست

د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ ریاست

د عوایدو د حقوقي اسنادو او پالیسۍ جوړولو آمریت

امارت اسلامی افغانستان

وزارت مالیه

# د مالیه ورکوونکو د تشخیص طرزالعمل

# طرزالعمل تشخیص مالیه دهنده گان

شمېره: ( ۲۱ )

نېټه: ۱۴۴۵/۷/۱۰

## سریزه

بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ

الحمدلله رب العالمین و الصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.

اما بعد!

د مالیه ورکوونکو د تشخیص څانګه، د مالیه ورکوونکو د فعالیتونو د تشخیص، ارزونې، څېړلو، د مستندو، موثقو او دقیقو معلوماتو راټولولو، د نوي مالیه ورکوونکي تشخیص، د نوو عایداتي سرچینو پیژندل، د امارت د عوایدو له ضایع کېدو څخه مخنیوی، د هغو مالیه ورکوونکو تشخیص؛ چې د مالیې له ورکړې څخه تېښته کوي او د امارتي او غیر امارتي ادارو سره په همږغۍ د ملی عوایدو د کچې لوړولو په موخه د عوایدو د لوی ریاست د ۱۴۰۱ کال په منظور سوي تشکیل کې را منځته سوې ده. د مالیه ورکونکي د تشخیص څانګه د عوایدو په راټولولو او د مالیاتي کتمان څخه په مخنیوي کې کلیدي رول لري.

د داسې اداري شتون د مالیه ورکوونکو او مالیاتي ادارو تر منځ د باور، د اطاعت پذیرۍ د سطحې لوړولو او د ملي عوایدو د ډېرېدو سبب کیږي.

له همدې امله د مالیه ورکوونکو د تشخیص څانګه مکلفه ده؛ تر څو هغه اشخاص او سرچینې، چې د نافذه قوانینو مطابق د مالیاتي ادارو تر پوښښ لاندې نه وي او یا ئې قصداً د مالیاتو له ورکړې څخه ډډه کړې وي، وپېژني او تر پوښښ لاندې ئې راولي.

د مالیه ورکوونکو د تشخیص څانګه دې هغه قضیې؛ چې د مالیاتي فرار او کتمان کوښښ ئې کړی وي، په اسانۍ سره تشخیص او د دقیقې پلټنې له پاره اړوند برخو ته ور معرفي کړي. په دې سره به هغه دوسیې په اسانه توګه انتخابیږي؛ چې د

## مقدمه

بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ

الحمدلله رب العالمین و الصلواة والسلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.

اما بعد!

بخش تشخیص مالیه دهندهگان بمنظور تشخیص و ارزیابی فعالیت های جدید، جمع آوری معلومات مستند، موثق و دقیق در مورد فعالیت مالیه دهنده گان، تشخیص مالیه دهنده جدید، شناسایی منابع جدید عایداتی، جلوگیری از ضیاع عواید امارتی، تشخیص مالیه دهندگان که از تادیه مالیه فرار مینمایند و بلند بردن سطح عواید ملی در همکاری با ادارات ذیربط امارتی، غیر امارتی در تشکیل منظور شده سال ۱۴۰۱ ریاست عمومی عواید ایجاد گردیده است. بخش تشخیص مالیه دهندهگان ، در جمع آوری عواید و جلوگیری از فرار مالیاتی نقش کلیدی دارد.

موجودیت چنین ادارهٔ باعث اعتماد بیشتر میان مالیه دهندگان و ادارات مالیاتی گردیده که سبب افزایش سطح اطاعت پذیری و بلند رفتن عواید ملی می گردد.

بنابر این کارمندان بخش تشخیص مالیه دهنده گان مکلف اند تا اشخاص و منابع که به نحوی تحت پوشش ادارات مالیاتی مطابق قوانین مالیاتی نافذه قرار نداشته باشند یا قصداً از پرداخت مالیات ابا می ورزند، را شناسائی و تحت پوشش ادارات مالیاتی قرار دهند.

بخش تشخیص مالیه دهندهگان قضایا که کوشش فرار و کتمان مالیاتی نموده باشد به اسانی تشخیص و قضیه شان بمنظور بررسی دقیق به بخش مربوطه معرفی گردد. در این صورت انعده دوسیه های که ارزش بررسی را داشته باشد به آسانی انتخاب میگردد و عواید

بررسي ارزښت ولري، په لوړه اندازه عواید لاسته څني راځي او هم د مالیاتي سرغړونو د مخنیوي سبب کېږي.

## لومړی څپرکی

## عمومي حکمونه

### لومړۍ ماده

### مبنی

دغه طرزالعمل پر عایداتو باندي د مالیاتو قانون یوسل او اتمي مادې د حکم چي په ۱۳۸۷ هـ ل کال د کب د میاشتي پر ۲۸ نېټه په ۹۷۶ گڼه او د مالیاتو د چارو د اداري قانون، د دوشپېتمي مادې د حکم پر بنسټ؛ چي په ۱۳۹۴ کال کي د لړم د میاشتي پر ۲۷ نېټه په ۱۱۹۸ گڼه رسمي جریدو کي خپور سوی، وضع سوی دئ.

### دوهمه ماده

### موخي

دغه طرزالعمل لاندي موخي لري:

۱- د نوو عایداتي سرچینو پېژندل؛

۲- د مالیاتي عوایدو له تیښتي او کتمان څخه مخنیوی؛

۳- د هغه مالیه ورکوونکو پېژندل؛ چي د فعالیت د جواز او تشخیصیه شمېره (تي آی این) له درلودلو پرته فعالیت کوي او یا د واقعي فعالیتونو په اړه ئي ناسم معلومات وړاندي کړي؛

٤- په هیواد کي د مالیاتي قوانینو یو ډول تطبیق کول.

### درېیمه ماده

### اصطلاحگاني

په دغه طرزالعمل کي راتلونکي اصطلاحگاني لاندي معنا لری:

۱- **د مالیه ورکوونکو د تشخیص څانگه:** هغه څانگه ده؛ چي د نوو مالیه ورکوونکو د تشخیص او

بیشتر از انها به دست آمده وهم سبب جلوگیری از تخلفات مالیاتی میشود.

## فصل اول

## احکام عمومی

### مادۀ اول

### مبنی

این طرزالعمل به تأسی از حکم ماده یک صد و هشتم قانون مالیات برعایدات منتشره جریده رسمی (۹۷۶) مورخ ۲۸ حوت ۱۳۸۷ و حکم ماده شصت و دوم قانون ادارۀ امور مالیات منتشره جریده رسمی (۱۱۹۸) مورخ ۲۷ عقرب ۱۳۹۴ وضع گردیده است.

### مادۀ دوم

### اهداف

این طرزالعمل دارای اهداف ذیل می باشد:

۱- شناسائی منابع جدید عایداتی؛

۲- جلوگیری از فرار مالیاتی و کتمان عواید؛

۳- شناسایی مالیه دهندگان که بدون داشتن جواز فعالیت و شماره تشخیصیه (تی آی این) فعالیت می نمایند؛ویاهم درباره فعالیت های واقعی معلومات درست ارایه نمی نماید؛

۴- تطبیق یکسان قوانین مالیاتی در سطح کشور.

### مادۀ سوم

### اصطلاحات

اصطلاحات آتی در این طرزالعمل دارای مفاهیم ذیل اند:

۱- **بخش تشخیص مالیه دهنده گان:** ادارۀ است که به منظور تشخیص مالیه دهندهگان جدید و جمع آوری

٤- دامارتي او غير امارتي نهادونه (خصوصي سکتور، داخلي او نړۍ والو مؤسسو) دهغو قراردادونو په هکله د معلوماتو تر لاسه کول؛ چي دماليه ورکوونکواو يادو ادارو ترمنځ عقد سوي وي

٥- د راټولو سوو معلوماتو تحليل، تجزيه او د ماليه ورکوونکو د تشخيص په سيستم (ټايس) کي ثبتول؛

٦- په ټايس سيستم کي د ماليه ورکوونکو د عوايدو نوي ثبت سوي معلومات د واقعي ماليې د تحصيل په موخه له اړوندو مالياتي ادارو سره شريکول؛

٧- د هغه شرکتونو فعاليت مشخص کول؛ چي مالياتي ادارې ته ئې ځان عدم فعاليت معرفي کړی وی، و اړونده مالياتي ادارې ته د واقعي عوايدو د راټولولو په موخه د هغو معرفی کول؛

٨- هغه فعال شرکتونه مشخص کول او د واقعي عوايدو د راټولولو په موخه د بررسۍ او د قانون د پلی کولو برخو ته معرفي کول؛ چي د مالياتي اداري څخه ئې د خپل نهاد د لغوي مکتوب تر لاسه کړی وي،

**پنځمه ماده**

**د ماليه ورکوونکو د تشخيص د څانگي فعاليتونه:**

د ماليه ورکوونکو د تشخيص د څانگي فعاليتونه په لاندي دوو برخو کي ترسره کيږي:

**( الف ) د دفتري فعاليتونه**

د ماليه ورکوونکو د تشخيص د څانگي د دفتر د کارکوونکو فعاليتونه عبارت دي له:

١- په اړوند سيستم کي د امارتي او غير امارتي ادارو د عقد سوو قراردادونو د معلوماتو ثبتول؛

٢- د تر لاسه سوو موثقو مدرکونو او اسنادو ارزونه او تحليل له هغو معلوماتو سره؛ چي د ماليه ورکوونکو له خوا د مالياتو د ادارې په سيستم کي له مخکي وړاندي سوي وي؛

۴- دریافت معلومات ازنهاد های امارتی و غیرامارتی (سکتور خصوصی و موسسات ملی و بین المللی ) در مورد قرار داد های که میان مالیه دهنده و ادارت فوق عقد گردیده باشد؛

۵- تحلیل و تجزیه نمودن معلومات جمع آوری شده و درج آن در سیستم تشخیص مالیه دهنده گان (تایس)؛

۶- شریک نمودن معلومات ثبت شده عواید مالیه دهنده در سیستم تایس با ادارات مالیاتی مربوطه غرض تحصیل مالیه واقعی؛

۷- مشخص نمودن فعالیت آنعده از شرکت های که خود را به اداره مالیاتی عدم فعالیت معرفی نموده اند و معرفی انها به اداره مالیاتی ذیربط غرض جمع آوری عواید واقعی آن؛

۸- مشخص نمودن شرکت های فعال بمنظور جمع آوری عواید و اقعی و معرفی نمودن آنها به بخش بررسی و تطبیق قانون؛ که ازاداره مالیاتی مکتوب لغوه ای دریافت نموده اند؛

**مادۀ پنجم**

**فعالیت های بخش تشخیص مالیه دهنده:**

فعالیت های کارمندان بخش تشخیص مالیه دهنده در دو بخش ذیل صورت می گیرد:

**(الف) فعالیت های دفتری:**

فعالیت های دفتر کارمندان تشخیص مالیه دهنده گان عبارت اند از:

۱- ثبت معلومات قراردادهای عقد شـده با ادارات امارتی و غیر امارتی در سیستم؛

۲- تحلیل، ارزیابی ا سناد و مدارک موثق که بد سترس شان قرار گرفته با معلومات که از قبل توسـط مالیه دهنده درسیستم و یا به اداره مالیاتی مربوطه ارایهٔ شده؛

۳- په هغه صورت کې؛ چې د مالیاتي عوایدو د تلف کېدلو تصور موجود وي، اړوندو مالیاتي ادارو ته د اسنادو او مدرکونو د ارزونې او تحلیل پایله په لیکلې بڼه لېږل؛ چې په هغه کې د مالیه ورکوونکي د مالیاتي وجایبو تصفیه صورت نیسي؛

۴- په اړوند سیستم کې د موثقو او مستندو معلوماتو تحلیل، تجزیه او ثبت؛ چې د مالیه ورکوونکو د تشخیص د څانګې د ساحوي کارکوونکو له خوا تر لاسه سوي، یا هم د مالیاتي او امارتي ادارو او خصوصي سکتور له خوا په اړوند سیستم کې دې ادارې ته په واک کې ورکول کیږي.

**( ب ) ساحوي فعالیتونه**

د مالیه ورکوونکو د تشخیص د څانګې د ساحوي کارمندانو فعالیتونه عبارت دي له:

۱- د مالیه ورکوونکو د تشخیص څانګه د صادر سوو رسمي اسنادو په وسیله، د خپلې اړتیا وړ معلومات له مالیه ورکوونکو، د هغوی له نماینده او ثالثو اشخاصو څخه غوښتلی سي، همدارنګه د اړتیا پر مهال مالیه ورکوونکی مربوطه اداري ته احضارولای سي؛

۲- د دغه طرزالعمل د صلاحیتونو مطابق د مالیه ورکوونکو د معلوماتو د راټولولو او د فعالیت له ساحې څخه کتنه کولای سي.

## درېیم څپرکی

## مکلفیتونه او صلاحیتونه

### شپږمه ماده

### د دندو د اجرا پر مهال د مالیه ورکوونکو د تشخیص د څانګې د کارکوونکو مکلفیتونه

د مالیه ورکوونکو د تشخیص د څانګې کارمندان د لاندي مکلفیتونو درلودونکي دي:

۳- در صورت که اتلاف عواید مالیاتی متصورباشد ارسال کتبی نتیجه تحلیل و ارزیابی اسناد و مدارک به اداره مالیاتی مربوطه که تصفیه وجایب مالیاتی مالیه دهنده در ان صورت میکرد؛

۴- تحلیل، تجزیه و ثبت معلومات موثق و مستند که از طرف کارمندان ساحوی بخش تشخیص مالیه دهنده بدست می آید، یا از سوی ادارات مالیاتی و سایر ادارات امارتی و سکتور خصوصی بدسترس قرار میگیرد و یا از طریق سیستم مربوط در اختیار آن اداره قرار میگرد.

**(ب ) فعالیت های ساحه وی**

فعالیت های ساحه وی کارمندان بخش تشخیص مالیه دهنده عبارت اند از:

۱- کارمندان بخش تشخیص مالیه دهنده ذریعه اسناد رسمی صادر شده، معلومات مورد نیاز خویش را از مالیه دهنده، نماینده مالیه دهنده و اشخاص ثالث درخواست نموده و همچنان در صورت نیاز مالیه دهنده را به اداره مربوط احضار می نماید؛

۲- بازدید از ساحه فعالیت و جمع آوری معلومات مالیه دهندگان مطابق به صلاحیت های مندرج این طرزالعمل.

## فصل سوم

## مکلفیت ها و صلاحیت ها

### مادۀ ششم

### مکلفیت های کارمندان بخش تشخیص مالیه دهنده گان حین اجرائی وظایف

کارمندان بخش تشخیص مالیه دهنده گان دارای مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- د دندې د اجرا پر وخت باید د ښکو صفتونو درلودونکي وي، د قانون ټول حکمونه او د ملکي خدمتونو طرز سلوک مراعات کړي؛

۲- د مالیه ورکوونکو د فعالیت ساحې ته د مراجعې پر وخت د نهاد مسؤلینو ته خپل رسمي سند، د هویت کارت ور ښکاره او ځان ور وپېژني. همدارنګه د خپلې ادارې په اړه معلومات وړاندي کول، او مالیه ورکوونکو ته د مراجعې په موخه د خپلو وظیفوي صلاحیتونو او مسؤلیتونو په هکله معلومات ورکړي؛

۳- د دندې اړوند د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو او لارښودونو په اړه معلومات ولري؛

٤- د څېړنې د لاس ته راغلو پایلو د توضیح وړتیا ولري؛

٥- د څېړنو مستند کول باید د نافذه مالیاتي قوانینو مطابق وي؛

٦- د څېړنو په قضیو کې شخصي ګټه ونه لري؛

۷- د کړنو د سرته رسولو پر وخت له خپلو صلاحیتونو څخه ناوړه استفاده ونه کړي؛

۸- د مالیه ورکوونکو د فعالیت په اړه لاس ته راغلي اسناد، مدرکونه او معلومات محرم دي او په ساتلو ئې مکلف دي.

**اوومه ماده**

**د اړونده مالیاتی ادارو مکلفیتونه**

(۱) مالیاتي ادارې مکلفې دي، چې د مالیه ورکوونکو د تشخیص له څانګې سره معلوماتو ته د اړتیا پر وخت هر اړخیزه او پر وخت همکاری وکړي؛

(۲) مالیاتي ادارې مکلفې دي، چې د مالیه ورکوونکو د تشخیص د څانګې له خوا د لېږل سوو راپورونو په اړه پر وخت اجراآت وکړي او د هغوی له پایلو څخه په رسمي ډول د مالیه ورکوونکو د تشخیص څانګې ته ډاډ ور کړي؛

۱- حین اجرای وظیفه باید دارای اوصاف نیک بوده، تمامی احکام قانون و طرزسلوک خدمات ملکی را رعایت نماید؛

۲- حین مراجعه به ساحه فعالیت مالیه دهنده، سند رسمی و کارت هویت خویش را به مسؤلین نهاد نشان داده و خود را معرفی نمایند و همچنان در مورد اداره خویش معلومات ارائه نموده و صلاحیت ها و مسؤلیت های وظیفوی خویش را با هدف مراجعه به مالیه دهنده توضیح دهند؛

۳- در مورد تمامی قوانین ، طرزالعمل ها و رهنمود های مالیاتی مرتبط به وظیفه، معلومات داشته باشند؛

۴- توانائی توضیح نمودندرست نتیجه بدست آمده تحقیق

۵- مستند سازی شان مطابق قوانین نافده مالیاتی باشد؛

۶- در قضیه مورد تحقیق منفعت شخصی را نداشته باشند؛

۷- از صلاحیت های خویش در اجرای امور سوی استفاده ننماید؛

۸- اسناد، مدارک و معلومات بدست آمده در مورد فعالیت مالیه دهنده محرم بوده و در حفظ آن مکلف می باشد.

**ماده هفتم**

**مکلفیت های ادارات مالیاتی ذیربط**

(۱) ادارات مالیاتی مکلف است که در صورت نیاز به معلومات با کارمندان بخش تشخیص مالیه دهنده همکاری همه جانبه و به موقع نماید؛

(۲) ادارات مالیاتی مکلف اند تا گزارشات که از طرف بخش تشخیص مالیه دهنده به آنها محول میگردد، به موقع اجراآت نموده و از نتایج آن بخش تشخیص مالیه دهنده را رسماً اطمینان بخشند؛

(۳) د عوايدو د سيستم رياست ملکف دئ، چي د امارتي او غير امارتي ( خصوصي سکتور، داخلي او نړۍ والو موسسو ) نماينده گانو ته د قراردادونو د ثبت په موخه يوزر ور کړي؛

(٤) د عوايدو د سيستم رياست مکلف دئ په اړوند مالياتی سيستم کي په نښه سوی ستونزي حل او د ماليه ورکوونکو د تشخيص څانگي له لزوم ديد سره سم نوي کړي؛

(٥) که چيري ددې طرزالعمل په تطبيق سره د سيستم بدلون ته اړتيا وليدل سي، د عوايدو د سيستم رياست مکلف دئ؛ چي د مالياتي ادارو د غوښتني مطابق سيستم تنظيم کړي.

**اتمه ماده**

## د ماليه ورکوونکو د تشخيص د څانگي د کارکوونکو صلاحيتونه:

د ماليه ورکوونکو د تشخيص د څانگي کارکوونکي د لاندي صلاحيتونو درلودونکي دي:

۱- چي د ماليه ورکوونکو د فعاليتونو څخه د کتني په جريان کي د مستند کولو په موخه عکاسي وکړي او له ماليه ورکوونکو سره د مصاحبې په وخت کي د هغوی ږغ ثبت کړي، همدارنگه په هغه صورت کي؛ چي د ماليه ورکوونکو په کمپيوټرونو او نورو وسايلو کي معلومات وي د هغو کاپي تر لاسه کړي ( د کار له اجرا يا د اسنادو له کاپي کولو وروسته د ماليه ورکوونکو وسايل بېرته ورکول کيږي)؛

۲- چي د موثقو معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه د ماليه ورکوونکو د واقعي او حقيقي فعاليتونو په اړه له ماليه ورکوونکو څخه د دوی د فعاليتونو په اړه ټول اسناد، شواهد، مدرکونه او کتابونه وغواړي.

۳- ددې مادې په ( ۲ ) فقره کي درج سوي اسناد، د لاندي اسنادو له کاپي څخه عبارت دي:

✓ د فعاليت جواز؛

✓ د ماليه ورکونکي تشخيصيه شمېره (ټي آي اين)؛

(۳) رياست سيستم عوايد مکلف است برای نمايندگان ادارات امارتی و غير امارتی ( سکتور خصوصی و موسسات ملی و بين المللی) غرض ثبت قرارداد ها يوزر توزيع نمايند؛

(۴) رياست سيستم عوايد مکلف است مشکلات مشخص شده در سيستم مالياتی را حل و مطابق لزوم ديد بخش تشخيص ماليه دهنده آن را عيار نمايد،

(۵) به منظور تطبيق اين طرزالعمل در صورتيکه نياز به آوردن تغير در سيستم باشد، رياست سيستم عوايد مکلف است سيستم را مطابق نيازمندی ادارات مالياتی تنظيم نمايد.

**مادۀ هشتم**

## صلاحيت های کارمندان بخش تشخيص ماليه دهنده گان:

کارمندان بخش تشخيص ماليه دهنده گان دارای صلاحيت های ذيل اند:

۱- در جريان بازديد از فعاليت های ماليه دهنده بمنظور مستند سازی تصوير برادری نمايند و يا در زمان مصاحبه با ماليه دهنده صدای آن را ضبط نمايد و همچنان در صورتيکه در کمپيوتر و وسايل ديگر ماليه دهنده گان معلومات می باشد کاپی آنرا بدست بياورد (بعداز اجرای کار يا کاپی نمودن اسناد و وسايل ماليه دهنده گان مسترد می گردد)؛

۲- تمامی اسناد شواهد مدارک و کتاب های مربوطه به فعاليت ماليه دهنده را بمنظور دريافت معلومات موثق در خصوص فعاليت واقعی از ماليه دهنده گان مطالبه نمايند.

۳- اسناد مندرج فقره (۲)اين ماده عبارت از کاپی اسناد ذيل می باشد:

✓ جواز فعاليت؛

✓ شماره تشخيصيه ماليه دهنده (تی آی اين)؛

✓ مالياتي اظهار ليکونه؛

✓ بيلانس شيټ؛

✓ رزونامچه يا ژورنال؛

✓ لېجر؛

✓ د خريدارۍ اسناد؛

✓ د جايداد سند( د جايداد د قبالې کاپي / د جايداد د کرايې د سند کاپي)؛

✓ د شرکت د کارکوونکو ليست ( نوم، د پلارنوم، دنده، د استخدام نېټه، تشخيصيه شمېره ، د معاش مبلغ)؛

✓ د تجهيزاتو او ماشينرۍ ليست؛

✓ بانکي صورت حساب ( د محکمې له حکم اخيستلو څخه وروسته)؛

✓ هغه قراردادونه؛ چې د مختلفو امارتي او غير امارتي نهادونو (خصوصي سکتور داخلي او نړۍ والو مؤسسو) سره ئې کړي وي؛

✓ د اړتيا وړ نور اسناد؛ چې د ماليه ورکوونکي پر فعاليت اړه ولري.

٤- د خپل کاري پلان مطابق دنده لري؛ تر څو د ماليه ورکوونکو د فعاليت ساحې ته ولاړ سي او د فعاليت د ډول څخه ئې عملاً کتنه وکړي، د هغه د فعاليت په اړه دې اسناد او شواهد تر لاسه کړي؛

۵- چې د مالياتي قوانينو د احکامو مطابق د ماليه ورکوونکو د فعاليتونو اړوند د ټولو اشخاصو کره معلومات او مستند اسناد د مالياتو د ورکړې او واقعي فعاليتونو په اړه تر لاسه کړي؛

٦- کله چې هغو اسنادو ته لاس رسی پيدا کړي؛ چې مالياتي فرار ښيي، د راپور تر بشپړولو وروسته دې موضوع په رسمي ډول اړوندو مالياتي ادارو ته ولېږي او اړوند مالياتياداره مکلفه ده؛ تر څو د ماليه ورکوونکو د کتمان سوو عوايدو څخه د ماليې د راټولولو په برخه کې د مالياتي نافذه قوانينو مطابق اقدام

✓ اظهارنامه های مالياتی ؛

✓ بيلانس شيت؛

✓ روزنامچه يا ژورنال؛

✓ ليجر؛

✓ اسناد خريداری ها؛

✓ سند جايداد ( کاپی قباله جايداد / کاپی سند کرائی جايداد)؛

✓ لست کارمندان ( اسم، ولد، وظيفه، تاريخ استخدام، شماره تشخيصيه ، مبلغ معاش)؛

✓ لست تجهيزات و ماشينری؛

✓ صورت حساب بانکی( بعد از اخذ حکم محکمه)؛

✓ قراردادهای که با نهاد های مختلف امارتی و غير امارتی (سکتور خصوصی و موسسات ملی و بين المللی) عقد نموده اند؛

✓ ساير اسناد مورد نياز که به فعاليت ماليه دهنده مرتبط باشد.

۴- مطابق پلان کاری وظيفه دارد تا به ساحه فعاليت ماليه دهنده گان مراجعه نموده و عملاً از نحوه فعاليت ماليه دهنده بازديد، اسناد و شواهد پيرامون فعاليت وی را بدست بياورد؛

۵- مطابق به احکام قوانين مالياتی از تمامی اشخاص مرتبط به فعاليت ماليه دهنده معلومات دقيق و اسناد مستند در حصه فعاليت واقعی و پرداخت ماليات آن بدست بياورد؛

۶- زمانيکه به اسناد دست می يابد که نشان دهنده فرار ماليات بوده موضوع را بعد از تکميل گزارش رسماً به ادارات مالياتی مربوطه محول نمايد. اداره مالياتی مربوطه مکلف است تا در قسمت تحصيل ماليه از عوايد کتمان شده ماليه دهنده مطابق احکام قوانين

وکړي او د ماليه ورکوونکو د تشخيص څانګې ته په رسمي ډول ډاډ ورکړي؛

۷- د اړتيا په صورت کې د ماليه ورکوونکو د تشخيص څانګه کولای سي؛ چې د پوليسو له اداري ( اړوند امنيتي حوزې) څخه د مرستي غوښتنه وکړي.

**نهمه ماده**

**د دندي پر مهال له اسنادو او وسايلو څخه د استفادې حق:**

د ماليه ورکوونکو د تشخيص د څانګي کارکوونکي د دندي په جريان کي د لاندي وسايلو څخه استفاده کولای سي:

۱- **اســتعلام** : د معلوماتو د تر لاســه کولو په موخه له ماليه ورکوونکی څخه کيږي؛

۲- **کامره:** د ماليه ورکوونکو د فعاليت له جريان څخه د مستند کولو په موخه عکاسي؛

۳- **د ږغ ثبتوونکي آلـه (وايس ريکـارډر)**: د ماليـه ورکوونکو له خوا د ورکول سـوو معلوماتو د مسـتند کولو په موخه د هغه ږغ ثبت کړئ.

## څلرم څپرکی

## متفرقه حکمونه

**لسمه ماده**

**تطبيقي حکمونه**

هر کله چي ماليه ورکوونکی په لاندي مواردو کي اطاعت منونکی نه وي؛ د تعقيب په موخه د اطاعت پذيری او د قانون د تطبيق څانګي ته ور پيژندل کيږي:

۱- په هغه صورت کي؛ چي ماليه ورکوونکي د ماليه ورکوونکو د تشخيص د څانګي د اړتيا وړ اسناد او معلومات پر ټاکل سوي نېټه د ماليه ورکوونکو د تشخيص څانګي کارکوونکو ته په واک کي ور نه کړي؛

نافـذه ماليـاتی اقـدام نمـوده و بـه بخـش تشـخيص ماليـه دهنده گان رسماً اطمينان دهد؛

۷- در صورت ضرورت بخش تشخيص ماليه دهنده گان ميتواند از اداره پوليس (حوزه امنيتی مربوطه) درخواست همکاری نمايند.

**ماده نهم**

**حق استفاده از اسناد و وسايل در جريان وظيفه:**

کارمندان بخش تشخيص ماليه دهنده گان در جريان وظيفه از وسايل ذيل استفاده می توانند:

۱- **اســتعلام** : بمنظور دريافت معلومات که از ماليه دهنده صورت می گيرد؛

۲- **کمره**: بمنظور مستند سازی از جريان فعاليت ماليه دهنده جهت تصوير برداری؛

۳- **ضبط کننده صدا (وايس ريکاردر)** : بمنظور مستند سازی معلومات ارايه شده از سوی ماليه دهنده صدای وی را ضبط نمايد.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

**مادهٔ دهم**

**احکام تطبيقی**

هرگــاه ماليــه دهنــده در مــوارد ذيــل اطاعــت پــذير نباشـد جهـت پــی گيـری بـه بخش تطبيـق قـانون و اطاعت پذيری معرفی می گردد:

۱- در صـورتيکه ماليه دهنده گان اسـناد و معلومات مورد نياز بخش تشـخيص ماليه دهنده گان را به وقت از قبل تعين شـده، بدسـترس کارمندان بخش تشـخيص ماليه دهنده گان قرار ندهد؛

۲- د مالیه ورکوونکو د تشخیص څانګي له کارکوونکو سره همکاري نه کول.

**یوولسمه ماده**

**د راپورونو وړاندي کول**

د مالیه ورکوونکو د تشخیص څانګي کارکوونکي دي د لاندي مواردو په نظر کي نیولو سره راپور ترتیب او وړاندي کړي :

۱- د مالیه ورکوونکو د تشخیص د څانګي کارکوونکي خپل مستقیم آمر ته او د اړتیا په صورت کي د عوایدو لوی ریاست رهبري ته د خپل ورځني، اونیز، میاشتني، ربعوار او کلني راپورونو په وړاندي کولو مکلف دي؛

۲- د مالیه ورکوونکو د تشخیص د څانګي راپور دفتري او ساحوي کړنو ته شامليږي.

**دوولسمه ماده**

**انفاذ**

دغه طرزالعمل د منظور له نېټې څخه نافذ او ټولي مالیاتي اداري ئې په تطبیق مکلفي دي. مخکنی ۲۱ شمېره، ۱۴۴۴/۴/۲۸ نېټه طرزالعمل د دغه طرزالعمل له نافذېدو وروسته ملغی دئ.

۲- عدم همکاری با کارمندان بخش تشخیص مالیه دهنده گان.

**مادهٔ یازدهم**

**ارایهٔ گزارش ها**

کارمندان بخش تشخیص مالیه دهنده گان با در نظر داشت موارد ذیل گزارش ترتیب و ارائه نمایند:

۱- کارمندان بخش تشخیص مالیه دهنده گان مکلف به ارایهٔ گزارش از کار کرد خویش بصورت روزانه، هفته وار، ماهوار، ربعوار و سالانه به آمر مستقیم در صورت نیاز به رهبری ریاست عمومی عواید میباشند؛

۲- گزارش بخش تشخیص مالیه دهنده گان شامل کارکرد دفتری و ساحوی میباشد .

**مادهٔ دوازدهم**

**انفاذ**

این طرزالعمل از تاریخ منظوری نافذ و تمام ادارات مالیاتی به تطبیق آن مکلف میباشند. طرزالعمل قبلی شماره ۲۱ مورخ ۱۴۴۴/۴/۲۸ بعد از انفاذ این طرزالعمل ملغی میباشد.

په درنښت

با احترام

روزي محمد نېکمل

د عوایدو د حقوقي اسنادو او پالیسۍ جوړولو آمر

ندا محمد صدیقي

د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس

عبدالولي نوري

د عوایدو تخنیکی مرستیال

الحاج شبر محمد مشفق

د عوایدو لوی رئیس

وکتل سو

منظور دئ

/ /

ملا عبدالقاهر حاجي ادریس

د عوایدو او ګمرکونو معین

له ۱۰ پاڼو څخه ۱۰